ISSN Online: 3006-4708
ISSN Print: 3006-4694
SOCIAL SCIENCE REVIEW ARCHIVES
https://policyjournalofms.com

# Javed Iqbal Afgaar and the Tradition of Contemporary Pashto Tazkira Writing: A Research Study

**Shah Saud[1], Dr. Shukria Qadir[2]**
[1] M. Phil Scholar, Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan.
[2] Assistant Professor, Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan.

**DOI: https://doi.org/10.70670/sra.v4i1.1829**

**Abstract**

This research article investigates the contribution of Javed Iqbal Afgaar to the tradition of contemporary Pashto Tazkira writing, with a particular focus on his literary significance as a modern Tazkira writer. Afgaar is a contemporary Pashto literary figure who has made meaningful contributions across multiple genres of literature; however, his work in Tazkira writing stands out due to its innovative structure, intellectual depth, and modern critical approach.

His notable Tazkiras, including Khair-ul-Abrar-e-Nabi, Amil-da-Guloono, Mawaddat, Da Guloono Peshawara, and Pakhtunkhwa Guloona, reflect a renewed vision of Pashto Tazkira tradition. These works go beyond mere biographical documentation by incorporating elements of literary criticism, cultural consciousness, and social awareness. Afgaar's balanced approach to portraying literary personalities—combining narrative detail with analytical insight—distinguishes his Tazkiras from classical models.

The study analyzes the thematic dimensions, stylistic characteristics, and research value of Afgaar's Tazkira writings and argues that his contributions have significantly enriched contemporary Pashto literature. The findings indicate that Javed Iqbal Afgaar occupies an important position in modern Pashto Tazkira writing and that his works offer a strong foundation for future research in this genre.

## جاوېد اقبال افګار او د معاصر پښتو تذکره نګارۍ روایت: یو تحقیقي مطالعه

### پېژندګلو

د یویشتمې پېړۍ عصري پښتو ادبیات د کلتوري میراث د اصلاح او ترمیم له پاره دي. د پښتو معاصره ادبي ټولنه د پښتو ژبې د دوام، تاریخ او کلتوري ارزښتونو په برخه کښې د تکړه ادبي شخصیتونو خاوندان دي . زمونږ د پاملرنې مرکز د معاصرو ادبیاتو د مشهورو شخصیتونو نه یو جاوېد اقبال افګار دے . هغه په پښتو کښې د پام وړ جوسه ده چې په شعر او نثر کښې له خپلو مرستو له امله مشهوره ده. د جاوېد اقبال افګار ختېه د پښتون ده، ولې ځاله د پنجاب صوبې ضلع اټک، تحصیل جنډ په شنو زمکو کښې لري. هغه د خپل ژوند ډېره برخه ادبي هلو ځلو ته وقف کړې ده. د پنجاب په خاوره کښې ئې د پښتو ژبې د ودې له پاره کار کړے دے. په یو داسې خاوره او داسې وخت کښې د پښتو ژبې خدمات ترسره کول چې هلته خلک د نیشت برابر پښتو کښې خبرې کوي.
جاوېد اقبال افګار نۀ یواځې د پښتو ادب یوه پېژندل شوې جوسه ده بلکې د هغۀ نوم د اردو ادبیاتو په درو او ستر ځایونو کښې هم ځلیږي. د بې پښتو ژبې په خاوره کښې له ګرځېدو سره سره ئې نۀ یواځې د شعر و نثر په ډګر کښې د پام وړ ونډه زیاته کړې ده بلکې د پښتون قام د مشهورو تاریخي شخصیتونو په تاریخ کښې ئې هم ونډه اخستې ده. د جاوېد اقبال افګار د پام وړ نثري اثارو نه د نمونې په طور یو څو نومونه وړاندې کوم .

**ګرانه عجب خانه :**

د عجب خان افریدي قیصه چې د مشهور پښتون جنګیالي عجب خان افریدي سوانح عمري ده .

**د کار خلک :**

د پښتو نامتو لیکوالو په اړه، څنګه چې د نوم نه څرګندیږي چې "د کار خلک" هم دغه څبر په دې کتاب کښې د پښتو د نامتو لیکوالانو په

اړه ډېر مفصل او زړه پورې معلومات خوندي دي.
دغه شان نور کتابونه چې اردو پښتو شعرونه پکښې شامل دي، تاریخ، انګلیسي ګرائمر او نور ډېر څۀ . د هغۀ د ځيني ادبي اثارو نمونې پۀ دې ډول دي.

| | |
|---|---|
| **افکار زړۀ** | **شعري ټولګه (۱۹۸۶ء)** |
| **ستا ښکلا او زما مينه** | **رومانوي شاعري** |
| **زاړۀ طرزونه او نوې سندرې** | **اولسي شاعري** |
| **ازغنې لارې** | **د شعرونو ټولګه** |
| **پۀ مينه مينه** | **اولسي شاعري** |
| **د ښکلا سندرې** | **اولسي شاعري** |
| **بې څوکه** | **انقلابي شاعري** |
| **مؤدت** | **اهل بېتو تذکره** |
| **خېرالابراره نبي**[ص] | **نعتيه تذکره** |
| **عالمي حقيقتونه** | **تحقيق** |

**جاوېد اقبال افکار پۀ حېث د تذکره نګار**

تذکره نوېسي پۀ شرقي ادب کښې ډېر لرغونے روايت لري او تل دې صنف ته ډېر د قدر پۀ نظر کتلے شوے دے. هسې خو پښتو ادب ته ډېر څېزونه د اردو ادب د لارې راغلي دي ولې د تذکره نګارۍ صنف پۀ پښتو ادب کښې د اردو ادب نه وړاندې موجود وۀ ځکه چې پۀ اردو ادب کښې د تذکره نګارۍ روايت ډېر زوړ نۀ دے او پۀ دولسمه صدۍ هجرۍ کښې څو يادګارې تذکرې پۀ اردو کښې ليکلې شوې دي چې پکښې مخزن نکات، نکات الشعراء او ريخته ګويان د يادونې وړ دي. ولې پۀ پښتو ادب کښې د تذکره نګارۍ معلوم تاريخ اغاز پۀ اوومه صدۍ کښې د سلېمان ماکو د "تذکره الاولياء" نه کېږي خو دغه تذکره پوره نۀ ده موندلې شوې او څو ابتدائي پاڼې ئې پۀ لاس راغلي دي چې د علامه عبدالحی حبيبي پۀ زيار وړاندې راغلي دي. د تذکرې معنٰی پۀ درياب لغت کښې څۀ داسې ليکلې شوې ده:

"تذکره:- (تذ - کره) اسم – واحد – مؤنث (1) ذکر – بيان، ياداشت، يادونه، تبصره – د لويو شخصيتونو پۀ احوال مشتمل کتاب"1

پۀ پښتو زاهد پښتو سيند قاموس کښې د تذکره معنٰی څۀ داسې ليکلې شوې ده:

"تذکره:- (Tazkira) ښځه – م (ج - تذکرې) (1) ذکر، بيان، يادښت (2) پېښې – هغه کتاب چې د شاعرانو پوهانو ژوند پېښې پکښې ليکلې شوې وي. (3) د سجل پاڼه، د تابيعت پاڼه "2

طيب الله خان پۀ خپل کتاب "د علي خان وارثان" کښې د تذکرې د معنې پۀ اړه څو حوالې داسې بيانوي:

"د تذکره لفظي معنې پۀ عربي لغاتو کښې د يادولو، يادګار، يادونه، ياداشت او ذکر کولو پۀ معنٰی راغلې دي. دا د عربي توری دے او پۀ دغه بره ذکر شوو معنو پۀ قران کريم کښې هم څو ځايه راغلے دے. پۀ سورة نحل کښې:

وَاَنْزَلْنَا اِلَيْکَ الذِّکْرَ لِتُبَيِّنَ لِمنَّاسِ

هم دغسې پۀ سورة ابراهيم کښې:

يَاَيُّهَا الْنَّاسَ اذْکُرُوْ نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْکُمْ

پۀ سورة انبياء کښې:

لَقَدْ اَنْزَلْنَا اِلَيْکُمْ کِتَباً فِيْهِ ذِکْرُکُمْ

داسې پۀ دغه مذکوره معنو پۀ قران مجيد کښې ځاے پۀ ځاے ذکر شوے دے."3

د بېلا بېلو ژبو پۀ ادب کښې پۀ شعرونو کښې هم تذکره پۀ دغه معنو کښې ډېره وړاندې راځي لکه د اردو څو شعرونو ته ستاسو پام راګرځوم. الطاف حسېن حالي وائي:

تذکره دہلی مرحوم کا اے دوست نہ چھیڑ
نہ سنا جائے گا ہم سے یہ فسانہ ہرگز

او د مظفر وارثي يو شعر دے:

میں اپنے گھر میں ہوں گھر سے گئے ہوؤں کی طرح
مرے ہی سامنے ہوتا ہے تذکرہ میرا 4

هم دغه رنګ پۀ پښتو کښې تذکرې د معنې پۀ اړه څۀ داسې حواله نقل کوي:

"د تذکرې د معنې پۀ اړه بهادر شاه ظفر کاکاخېل پۀ طفراللغات کښې داسې ليکي؛ ذکر، يادونه، بيان، سوانح، هغه کتاب چې پۀ کوم کښې د شاعرانو او بزرګانو داسې نورو حالات ليکلے شوي وي"5

ډاکټر عبدالله جان عابد پهٔ خپل کتاب "پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ" کښې د تذکرې پهٔ اړه څهٔ داسې وائي:
"ادبی اصطلاح میں تذکرہ اس کتاب کو کہا جاتا ہے جس میں مختلف شعراء کے سوانحی کوائف ، آثار اور کلام کے نمونے درج ہوں"6

ژباړه:
"پهٔ ادبي اصطلاح کښې تذکره هغې کتاب ته وئیلے شي پهٔ کوم کښې چې د شاعرانو د ژوند پېښې، نخښې او د کلام نمونې شامل وي"

ښېرنوال سید محي الدین هاشمي د محمد داؤد وفا پهٔ کتاب "د پښتو اوسنی تذکرې" کښې پهٔ خپلو تاثراتو کښې د تذکره پهٔ اړه څهٔ داسې وائي:

"تذکره پهٔ عامه توګه د عربی کلمه ده چې لغوي معني ئې پهٔ فرهنګونو کښې ذکر، بیان، یادښت، یادونه، تبصره، پېژند پاڼه او د ناروغانو د لېږدوني وسیله راغلي او پهٔ اصطلاح کښې هغې اثر ته وئیل کېږي چې پکښې د پوهانو عارفانو، دیني او ملي مشاهیرو او نورو نومیالو شخصیتونو د احوالو ژوند پېښو او اثارو پېژندنه کېږي"7

د ادبي تذکرې پهٔ اړه فضل میر خټک څهٔ داسې وائي:

"پهٔ ادبي او فرهنګي مطالعاتو کښې ادبي تذکره هغه اثر ته وئیل کېږي چې د شاعرانو او لیکوالو ژوند پېښې او اثار پکښې راپېژندل شوې او پهٔ ترڅ کښې ئې د هغوي د منظومو او منثورو یا لیکونو بېلګې هم خوندي شوې وي"8

پروفېسر فضل میر خټک پهٔ خپل کتاب "فضلیات" کښې د تذکره ذکر څهٔ پهٔ دې انداز کښې کوي او وائي:

"تذکره د عربی لفظ دے، مذکر دے معني ئې ده؛ یاداشت، یادګار. ادب کښې ترې هغه تصنیف مراد دے کوم چې د قوم د پیاوړو او مشهور کسانو د ژوند او ښاغلتوب لنډ شان تعارف شوے وي. لټون کښې اسانتیا پیدا کولو د پاره د دوي د نومونو فهرست د حروف تهجي پهٔ ترتیب جوړ وي. تذکرې کښې اکثر د ژوند د یوې شعبې او ځانګې سره متعلقه افرادو پهٔ حقله لیک وي لکه څنګه چې د تذکرو د نوم نه ښکاره ده یعني تذکره الاولیاء، د اولیاؤ کرامو تذکره ده. تذکره تصوفیا د صوفیاؤ عظام تذکره ده او د تذکره الشعراء کښې د شاعرانو پهٔ باره کښې معلومات وي"9

هم دغه رنګ ډاکټر شکریه قادر د تذکره نګارۍ د ارزښت پهٔ اړه د فاروق جان حسین د کتاب "ځلنده ستوري" شاپانه باندې خپل خیالات څهٔ داسې څرګند کړي دي.

"د پښتو ادب زمکه یوې ورځې له هم شړه شوې نهٔ ده پهٔ یو ځل پکښې رنګ پهٔ رنګ ګلونه کر وي. هغه د نثر وي کهٔ د نظم ، خو کهٔ مونږ لږ پهٔ ماضي نظر واچوو نو څو ګلونو له ځاے پهٔ ځاے دغه زمکه شړه ښکاري ولې حقیقت کښې داسې نهٔ ده خو دغه ګلونه د تاریخ پاڼو ته نهٔ دي ختلي. پهٔ دغه سلسله کښې څهٔ کړی تر ننه ورکې دي چې ځان له تحقیق غواړي."10

پهٔ شرقي ژبو کښې خصوصاً پهٔ پښتو ژبه کښې د تذکره نګارۍ روایت ډېر لرغونے دے چې سر ئې د اوومې هجرۍ خوا و شا نه شروع کېږي. پهٔ دې کښې یا د تذکرې د سلېمان ماکو "تذکرة الاولیاء"، د محمد علي البستي "تاریخ سوري"، د شېخ کټه متے زے "لرغوني پښتانهٔ" او د محمد هوتک بن داؤد "پټه خزانه" د یاد وړ دي. د محمد هوتک بن داؤد "پټه خزانه" مونږ ته ډېر ورک خلک راښائي او دا سلسله تر ننه را روانه ده. پهٔ پښتو ژبه کښې د تذکره نګارۍ د اغاز پهٔ اړه ډاکټر عبدالله جان عابد پهٔ خپل کتاب "پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ" کښې څهٔ داسې وائي:

"پشتو میں تذکرہ نویسی کا آغاز ساتویں صدی ہجری کے اوائل سے ہوتا ہے اور پشتو کا اولین تذکرہ"تذکرہ الاولیاء" ہے جسے سلیمان ماکو نے ۶۱۲ھ کے بعد لکھا۔ بدقسمتی سے یہ مکمل صورت میں دستیاب نہیں۔ علامہ عبدالحئی حبیبی کے کاوش سے اس کے صرف سات صفحے بازیافت ہوسکے۔ جو بلاشبہ پشتو زبان وادب کے لیے نعمت غیر مترقبہ ہیں"11

ژباړه:
"پښتو کښې د تذکره نګارۍ اغاز د اوومې پېړۍ هجري کال د شروع نه کېږي او د پښتو لومړۍ تذکره "تذکرة الاولیاء" ده کومه چې سلېمان ماکو د 612هـ نه پس لیکلې ده. له بده مرغه دا ټوله ترلاسه شوې نهٔ ده. د علامه عبدالحیٔ حبیبي پهٔ سترړیو سره د دې صرف اووهٔ مخه ترلاسه شوي دي چې بېشکه د پښتو ژبې او ادب د پاره د لوے نعمت نه کم نهٔ دے."

وړاندې د دې تذکرې پهٔ اړه دا موصوف څهٔ داسې وائي:

""تذکرہ الاولیاء" میں ان اولیائے کرام اور بزرگان دین کے حالات زندگی بیان کئے گئے ہیں جو پشتو کے اولین دور کے شاعر بھی ہیں۔ ان میں شیخ بیٹنی، اسماعیل، ملکیار غرشین اور قطب الدین بختیار شامل ہیں۔ یہ تذکرہ پشتو میں دو اولیتوں کا حقدار ٹھہرا ہے اولاًیہ پشتو کا اولین دستیاب تذکرہ ہے اور ثانیاًیہ کہ اس کی نثر پشتو کی اولین نثر سمجھی جاتی ہے"12

ژباړه:

"تذکره الاولیاء کښــــي د هغي اولیائـــے کرامو او بزرګان دین د ژوند حالات بیان شــــوي دي کوم چي د پښــــتو د لومړي دور شاعران هم وو. په دې کښي شېخ بېټنے، اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار شامل دي. دا تذکره په پښتو کښي د دوؤ اولیاتو حق لرونکي ګرځېدلي ده چي پکښې وړومبے دا چي دا د پښتو وړومبی ترلاسه شوې تذکره ده او دوېمه دا چي د دې نثر د پښتو لومړنے نثر ګڼلے کېږي".

د جاوېد اقبال افګار تذکرې په تحقیقي، معلوماتي او تاریخي لحاظ سره ډېري د اهمیت وړ دي. د شعر و ادب د نورو اصـنافو سره ئې د تذکره نګارۍ روایت هم په ځاے ســاتلے دے نو بل خوا ئې د خپل عصـر د شــاعرانو ســره ســره د نورو شــاعرانو ادیبانو معلومات هم خوندي کړي دي او بیا خصوصاً د پنجاب د اټک او میانوالی سیمي د پښتنو شاعرانو معلومات خوندي کول ئې یقیناً یو لوے زیار دے. د جاوېد اقبال افګار تذکرې د ځانګړې اسلوب سره سره په مقدار کښي هم زیاتي دي چي پکښي څهٔ د چاپ په کالو سینګار شوي دي او څهٔ چاپ ته چمتو دي. په چاپ تذکرو کښي د ذکر وړ "خیرالابراره نبي ﷺ، امېل د ګلونو، مؤدت، د ګلونو پېښوره او د پښتونخوا ګلونه" شامل دي. د جاوېد اقبال افګار د تذکره نګارۍ په اړه پروفېسر رحمان ساحل بنوي څهٔ داسي وائي:

"جاوېد اقبال افګار د شـعر و ادب د نورو اصـنافو سـره د تذکره نګارۍ په مېدان کښـي هم ډېر په زړهٔ پورې کار کړے دے بلکي زما په خیال د هغهٔ مزاج د تذکرو اړخ ته ډېر مائل دے. تذکره لیکل یو ډېر ګران کار دے ځکه چي په دې کښي د کمے زیاتے امکان موجود وي ولې زهٔ جاوېد اقبال افګار په دې معامله کښي ډېر خوش نصیبه ګڼم ځکه چي هغهٔ ډېر په احتیاط قدم او قلم پورته کړے دے او د خپل منزل په لورې ئې په ډېر ښهٔ طریقي سره او محتاط انداز کښي مزل کړے دے او ډېري اشنا او نااشنا څهرې ئې رابرڅېره کړې دي"13

هم دغه رنګ اروابناد لائق زاده لائق د جاوېد اقبال افګار د تذکره نګارۍ په اړه څهٔ داسي وائي:

"زهٔ ښـاغلے جاوېد اقبال افګار د ډېرې مودې راسـي نزدې نه پېژنم. دا د خوشـحال بابا د عظمت هغه نخښـه ده په کومه چي د ټول اټک خاوره ګواه ده. هغه د رېډیو پاکستان پېښور، ډېره اسماعیل خان، پاکستان ټېلي ویژن پېښور او بیا د ایبټ اباد د رېډیو د لارې هر چا منلے دے. ښـــاغلے افګار په خپل ادب، په خپل فن او په خپل اقدار او روایاتو بې کچه مئین دے. د افګار کهٔ شاعري ده، کهٔ نثر دے، کهٔ انتخاب دے، کهٔ تالیفات دي او کهٔ تذکره نګاري ده یو ځانګړے اســـلوب، خوند او رنګ لري او زهٔ باوري یم چي دغه مینه به راتلونکي وخت ســـره نوي نوي رنګونه سپړي"14

ډاکټر محمد داؤد جان مومند د جاوېد اقبال افګار د تذکره نګارۍ په اړه څهٔ داسي وائي:

"تر اوسـه پورې جاوېد اقبال افګار پښـتو ادب ته یو شـمېر بښـني کړې دي. د هغهٔ ادبي خدمات ډېر په زړهٔ پورې دي، شـعر ئې په زړهٔ اثر کوي او نثر ئې هم ادبي تنده ماتوي. جاوېد اقبال افګار ترجمې هم کړې دي او تذکرې ئې هم لیکلي دي. د نورو اصــنافو په څېر جاوېد اقبال افګار د تذکره نګارۍ په حق کښــي د اعلي درجي کمال او هنر لري. هم دغه وجه ده چي د جاوېد اقبال افګار تذکرې د پښتو ادب له پاره یوه مثالي پنګه ده"15

دلته د ښاغلي دچاپ تذکرو تعارف کول غواړم ۔ چي په هغي کښي اولنۍ چاپ تذکره د خیرالابراره نبيﷺ په نوم چاپ ده ۔

خیرالابراره نبيﷺ : د ښاغلي اولنۍ چاپ تذکره ده ۔ چي د جون په میاشت کال ۲۰۱۷ کښي چاپ ده ۔ چي په کښي د ۷۸ شاعرانو نعتیه کلامونه شامل کړے شوي دي ۔ د هرشاعر یې مختصر پېژندګلو د هغه د نعت نمونه وړاندي کړې ده ۔ د کتاب ټرون یې د هغه صحابه کرامو په نامه کړے دے کوم چي د خوږ نبيﷺ په دربار کښي نعت ګو وو۔ د کتاب په اولني تاثرات ښاغلي صاحبزاده اجمل احمد صادق کښلي دي چي د کتاب په اهمیت او نعت ګوئي باندې یې په زړهٔ پورې بحث کړے دے ۔ " د زړه اواز " د عنوان لاندې پرې ښاغلي جاوېد اقبال افګار د خپل تاثرات لیکلي دي او د کتاب د چاپ په اغراض و مقاصد باندې لیکل کړي دي ۔ دا کتاب په یوسل شپېتهٔ مخونو باندې اړانه لري ۔ په مخ پاڼه یې د کتاب د نوم نه لاندې د شني روضې ښکلي عکس دے ۔ دې کتاب کښي چي کمے محسوسیږي نو هغه دا چي د کتاب په اول کښـي فهرست نهٔ دے شـامل کوم د لوسـتونکیو دپاره ګراني پیدا کوي ۔ د دې نه علاوه دا کتاب د تذکره نګارۍ په فن پوره دے چي د ښاغلي موصوف فنکاري په کښي ښکاري ۔

مودت : د ښاغلي دا کتاب دوئیمه چاپ تذکره ده چي په کښي ۸۰ داسي شاعران شامل کړے شوي دي کومو چي د حسنیانوپه حقله څهٔ نظم یا منقبت وغېره لیکلے دے ۔ چي یې کلاسک شاعرانو نه هم انتخاب کړے دے لکه خوشحال خان خټک بابا او داسي نور او بیا یې جدید لیکوالو نه هم لیکوال راخستي دي ۔ دا کتاب په کال ۲۰۱۸ کښـي د زېب آرټ پبلشـرز له خوا چاپ دے ۔ دا کتاب ټول ۱۴۴ مخونه لري ۔ دا ښاغلي دا زیار د ستائنې وړ دے ۔

د پښتونخوا ګلونه : دا کتاب یې د ځانله نوعیت کتاب دے چي په کال ۲۰۲۰ کښي چاپ دے ۔ په دې کښي صرف څلور هغه لیکوال چي د شلمي صدۍ د ادب د ملاتیر ګڼل کېږي ۔ په دې کښـي یې د ښـاغلي سـاحر افریدي ، ښـاغلي غازي سـیال ، ښـاغلي لائق ذاده لائق او ښاغلي منظرفریادي نومونه شامل دي ۔ دې ښاغلو ته یې د نظم په شکل کښي اول پېرزوئنه کړې ده او بیا یې د دې کسانو هاغه کلامونه راخستي دي کوم چي سندرغاړو وئیلي دي او اولس کښي مقبول شوي هم دي. او لا ترننه تروتازه دي ۔

په اخر کښي به زهٔ دا اوایم چي جاوېد اقبال افګار د معاصر پښتو تذکره نګارۍ په روایت کښي یو مهم، فعال او نوښتګر نوم دے ۔ هغه د کلاسیکي تذکره نګارۍ بنستونه ساتلي، خو ورسره یې عصري فکري، تنقیدي او تحقیقي شعور هم ورګډ کړے دے ۔ د افګار تذکرې یوازې د شاعرانو او ادیبانو سوانحي یادښتونه نه دي، بلکي پکي ادبي شعور، کلتوري احساس او ټولنیزه اګاهي هم څرګندېږي ۔ د هغه

ځانګړی اسلوب، متوازن تجزیه، او د معلوماتو د کره والي هڅه د ده تذکرې له روايتي چوکاټه راباسي او د معاصر ادب غوښتنو ته يې نږدې کوي. په ځانګړي ډول د پنجاب د پښــتنو شـــاعرانو د ادبي هويت خوندي کول د افکار يو لوی تحقيقي خدمت دے ۔ په ټوله کښـــې ويئلی شــو چې جاوېد اقبال افکار د پښـتو تذکره نګاری روايت ته نوې ســاه ورکړې او د راتلونکو څېړنو لپاره يې يو پياوړی علمي بنياد اېښودے دے ۔

## حوالې


1. مشواني، عبدالقيوم زاهد، پښتو سيند، 1385هـ. دانش خپرندويه ټولنه، مخ 219
2. خان، طيب الله، د علي خان وارثان، چارسده ادبي تحريک، فروري 2025، مخ 6
3. هم دغه اثر، مخ مخ 6
4. هم دغه اثر، مخ 7-6
5. عابد، عبدالله جان، ڈاکٹر، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، انیسواں ایڈیشن، گران خپرندويہ ټولنہ سوات، 2022، ص 401
6. هاشمي، سيد محي الدين، څېړنوال، د پښتو اوسنی تذکرې، جلال اباد ننګرهار، 1/12/1393 لمريز، 21 فروري 2015، مخ 8
7. هم دغه اثر، مخ 9-8
8. ختک، فضل مير، پروفېسر، فضليات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، فروري 2020، مخ 138
9. حسين، فاروق جان، ځلنده ستوري، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور، 2025، شاپانه
10. عابد، عبدالله جان، ڈاکٹر، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، انیسواں ایڈیشن، گران خپرندويہ ټولنہ سوات، 2022، ص 401
11. هم دغه اثر، مخ 402-401
12. پروفېسر رحمان ساحل بنوي سره د وټس اېپ د لارې مرکه، يک شنبه، يولس بجې سحر، 5 اکتوبر 2025ء
13. افګار، جاوېد اقبال، د کار خلک، زېب ارټ پبلشرز صدف پلازه محله جنګي پېښور، نومبر 2020ء، مخ 7-6
14. ډاکټر محمد داؤد جان مومند سره د وټس اېپ د لارې مرکه، جمعه مبارک، درې نيمې مازيګر، 3 اکتوبر 2025ء
15. جاوېد اقبال افګار سره د وټس اېپ د لارې مرکه، سه شنبه، لس بجې سحر، 5 اکتوبر 2025